# وطن یا کفن

د پښتونخوا ( احمد شاه بابا افغانستان) نومیالي
لیکوال , شاعر , ژورنالست او ډرامه لیکونکي او د
لیکوال مجلې چلوونکې او چیف اېډېټر ښاغلي
نورلبشر نوید لیکلی کتاب دی, چې د ډاکتر نجیب الله د
واکمنۍ پر مهال د ورپیښو ستونزو او د ملي روغې
جوړې د هڅو په هکله یې پکې د یو شمیر
پوهانو,سیاستوالو اولیکوالانو لیکنې راټولې کړې دي.
د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند جنرل سیکرټري ښاغلي
هدایت الله خان بنګش مرکه په وطن یا کفن کښې دلته
لوستلی شئ. درنښت
نصیر ستوری

# KAFAN ya WATAN

This book is written by Mr. Nurul-Bashar Naveed, the noted author, poet, journalist and playwright of Pakhtunkhwa (Ahmed Shah Baba Afghanistan) and chief editor of the LEKWAL magazine

He has collected the writings of a number of Scholars, politicians and writers about the problems that occurred during the rule of Dr. Najibullah and the efforts of national reconciliation.

You can read the interview of Pashtun Social Democratic Party (PSDP) General Secretary Mr. Hidayatullah Khan Bangash in WATAN ya KAFAN here. respect

(Nasir Stori)

# وطن یا کفن

مؤلف
نور البشر نوید



# فهرست


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| تړون | |
| وطن یا کفن او زۀ | ١ |
| د شهید ډاکټر نجیب الله لنډه سوانح | ١١ |
| د ډاکټر نجیب الله تاریخي وینا | ١٩ |
| د وطن ستر شهید ډاکټر نجیب الله | ٣٣ |
| د ملی روغې جوړې سیاست | ٣٨ |
| د ډاکټر نجیب الله د واکمنی ... | ٣٨ |
| نوی اساسی قانون | ٣٩ |
| د جینوا توافقات | ٤١ |
| د سولې سیمې | ٤١ |
| د سلیمان لایق شعر | ٥٣ |
| افغان انقلاب ولې په شا لاړو ؟ | ٥٤ |
| ډاکټر نجیب سره په گل خانه... | ١٠٩ |
| آیا بنسټ پالنه کولې شی... | ١١٧ |
| اجمل خټک وایی : ... | ١٢٤ |
| عبدالطیف اپریدی وویل: ... | ١٢٩ |
| د شهید رهبر شخصیت ته یوه کتنه | ١٣٠ |
| نن دی که سبا دی دا وطن... | ١٣٦ |
| د ملگرو ملتو په نامه... | ١٣٩ |
| اعلامیه | ١٤١ |
| د ملگرو ملتونو د سرمنشی... | ١٤٤ |
| په آلمان کښې د وطن گوند... | ١٥١ |
| ملگریو ملتو ته په استریلیا... | ١٥٣ |
| ډاکټر نجیب الله، پښتو او ... | ١٥٧ |
| د نجیب الله د ملی روغې ... | ١٦٩ |
| ډاکټر نجیب الله سره ملل متحد... | ١٧٩ |
| ډاکټر نجیب چا او ولې ووژلو ؟ | ١٨٨ |
| ماته د حسنک پوره قیصه وکړه. | ١٩١ |
| وائرس بی | ١٩٧ |
| ډاکټر نجیب الله د چاؤ ؟ | ٢٠١ |
| ډاکټر د کلیزې په موقعه | ٢٠٣ |
| یؤ لیک، یؤ اثر او تاریخ | ٢٠٤ |
| پیرامون نقض حقوق بشر ... | ٢١٣ |
| خاطرات همکاری وهمراهی با... | ٢٢٥ |
| یو رښتونی وطنپال افغان... | ٢٣١ |
| سرور کوؤ سنگر نه ورکو ؟ | ٢٣٩ |
| د ډاکټر نجیب درې ارمانونه | ٢٤٧ |
| د ملل متحد د سرمنشی اعلامیه | ٢٥١ |
| افغانستان کښې د خارجی خفیه ... | ٢٥٣ |
| د ډاکټر نجیب د قتل سازش | ٢٦٥ |
| د طالبانو د رامنځته کولو پروسه | ٢٦٨ |
| د جینوا معاهده | ٢٨١ |
| هدایت الله خان بنگش سره مرکه | ٢٨٩ |
| د کابل تخت په وینو سور راغلی | ٢٩٥ |
| ثور انقلاب | ٢٩٧ |
| صدیق الله راهی پاکستان ته راتگ | ٢٩٩ |
| د شاهنواز تنی بغاوت | ٣٠٢ |

## د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند ( Pashtoons Social Democratic Party -PSDP / Pakhtoonkhwa-Afghanistan ) جنرل سيکرټرۍ هدايت الله خان «بنګش» سره مرکه:

**يادګيرنه:** هرکله چې په افغانستان کښې د بهرني مداخلت اؤ روسي فوځونو په وجه افغاني پښتني تاريخي رواياتو ته خطرات راولاړ شول، نو په بهرنو ملکونو کښې ميشته افغاني پښتني ګوندونو او شخصياتو په اجتماعي او انفرادي توګه دغه ضرورت محسوس کړو چې ډاکټر نجيب سره تماس وکړي اؤ هغه په دې خبرو آګاه کړي. په دغه حواله د جرمنۍ نه پيپلز سوشل ډيموکراټيک ګوند درې کسيزه هيئت کابل ته د ډاکټر نجيب په بلنه لاړو او هغه سره يې خبرې وکړې، دا خبره ما ته ډاکټر کبير ستوري د جرمنۍ څخه کړې ده نو ما په فيکس رابطه کښې په دغه حواله څو تپوسونه وليږل د ګوند جنرل سيکرټرۍ هدايت الله «بنګش» راته ځوابونه راؤليږل. د ډاکټر نجيب سره په دغه ملاقات کښې خبرې او فيصلې لوستونکو ته پيش کوؤ د P.S.D.P جرمنۍ په مننه او تشکر. (بشر نويد)

تپوس: د پښتون سوشل ډيموکراټيک ګوند / پښتونخوا - افغانستان د افغان د کشالې د هوارې د پاره عملي کوششونه څه وو؟

ځواب: تاسو ته معلومه ده چې پښتون سوشل ډيموکراټيک پارټي Pashtoons Social Democratic Party د پښتنو د ملي آزادۍ د غورځنګ يوه

برخه ده چې په ۱۹۲۹ عیسوی کال کښې د انګریزی ښکیلاکی ځواک په مقابل کښې د فخر افغان باچاخان (خان عبدالغفار خان) په مشرۍ منځ ته راغلی دی.

په بره پښتونخوا (افغانستان) باندې د روسی پوځونو د یرغل وروسته په پښتونخوا او بهر کښې ددې غورځنګ یو شمیر پلویانو د یو ګوند د جوړیدو ضرورت ولید. د اوږدې مودې تیارۍ او یو بل سره د تماسونو وروسته د ۱۹۸۱ عیسوی کال د جنوری د میاشتې په لومړی نیټه د پښتون سوشل ډیموکراټیک د پارټۍ د جوړیدو پریکړه وشوه، د ۱۹۸۱ عیسوی کال د فبروری په ۲۷ نیټه په یو بنسټ ایښودنکی غونډه کښې د ګوند جوړیدل اعلان شول چې د ټولو پښتنو د یووالی او ازادۍ د ګوند په توګه د پښتون سوشل ډیموکراټیک ګوند د ډاکټر کبیر «ستوری» تر مشرۍ لاندې خپلې ګوندی چارې په څرګنده توګه مخ په وړاندې روانې کړی.

پښتو سوشل ډیموکراټیک پارټۍ د یوه داسې ټولنې د جوړیدو هڅه کوی چې هرڅوک پکښې په آزادانه توګه سره خپل شخصیت (سړیتوب) ته وده ورکړی او د انسانانو په خدمت کښې د ټولنې د سیاسی، اقتصادی او کلتوری ژوند کښې برخه واخلی.

پښتونولی، ټولنولی او اولسولی د PSDP تهداب او بنسټ جوړوی.
ازادی، عدالت (انصاف) او وروړولی د PSDP غوښتنې دی نو ددې ارزښتونو په رڼا کښې د بری پښتونخوا (افغانستان) د کشالې د حل لپاره یې زیات شمیر نووښتونه د ملګرو ملتو موسسې (اقوام متحده) او د نړۍ نورو هیوادونو ته وار په وار وړاندې کړی دی چې تفصیل یې لوی کتاب جوړولی شی نو له دې امله یې د تفصیل څخه تیریږم.

ټپوس: تاسو د ډاکټر صیب سره په ملاقات کښې د پښتون د ملی روغې جوړې په حقله څه خبرې کړی وی؟

ځواب: د ۱۹۸۷ کال په لومړي سر کښې زمونږ ګوند PSDP ته د ډاکټر نجیب الله له خوا د ملي روغې جوړې په چوکاټ کښې د خبرو اترو بلنه راکړې شوه نو په دې حقله د مقدماتي خبرو لپاره د PSDP له خوا دوه کسیزه هیئت: د برې پښتونخوا (افغانستان) ښاغلی ډاکټر شیر افضل ګردیوال د PSDP د بهرنیو (خارجه) چارو سکرټري او د کوزې پښتونخوا علي خان محسود د PSDP مرستیال کابل ته لاړل. د ډاکټر نجیب الله او د هغه د ګوند (خلق) د نورو لوړ رتبه غړو سره یې ملاقاتونه او خبرې وکړې او بیرته جرمنی ته واپس راغلل. ددې هیئت رپوټ د ملي روغې جوړې په حقله د خبرو د ادامې د پاره وو نو همدا وو چې د PSDP مشر ډاکټر کبیر ستوري او زه هدایت الله بنګش د PSDP جنرل سیکرټري د خبرو اترو لپاره د ۱۹۸۷ عیسوی کال د اپریل د میاشتې په ۲۷ نیټه د جرمنی څخه روان او په ۲۸ اپریل ۱۹۸۷ کال کابل ته ورسیدو.

زمونږ خبرې او ملاقات د خان لالا محمد افضل خان چې هغه وخت کښې د عوامي نیشنل ګوند د پښتونخوا د صوبې صدر (مشر) وو په منځګړتوب او اعتبار سره پیل شوې د ډاکټر نجیب الله سره په خبرو اترو کښې زمونږ غوښتنې داوې چې تر ټولو مهمه او غټه غوښتنه:

۱- د افغانستان څخه د روسي پوځونو بې قیده او شرطه وتل.

۲- د لرو او برو پښتنو په منځ کښې باید توپیر، بیل والي او فرق نۀ وي او په ټاکنو Election او نورو دندو کښې د مساوي او برابر حق ولري.

۳- د ډیورنډ (Dewrand) لاین نۀ منل.

٤- د ډیر ګوندیزه (Multipartei) پارلماني ډیموکراسي.

۵- په راډیو تیلي ویزیون او مطبوعاتو کښې د افغانستان د اوسیدونکو

قومونو د هر قوم د شمیره سره سم د هغوی په ژبه خپرونې او پروګرامونه دې جلا جلا او بیل بیل وشي او هم دې هر قوم ته دخپل شمیره سره سم په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ژوند کښې برابر حقوق او برخه ورکړې شي.

ډاکټر نجیب الله زموږ غوښتنې د اوږده بحث وروسته ومنلی او وی ویل چې دا به زه د ګوند مرکزي کميټې ته وړاندې کړم او موږ ته یې ډاډ راکړ چې زه د کابل سیاست د افغانستان په سیاست بدلول غواړم. همدا راز زموږ د خبرو اترو په جریان کښې هغه وویل چې دوه سوه زره (دوه لکه) خلقي ګوندي غړي مې کمونیستي بلاک ته لیږلي دي چې تربیه شي او بیا خپل ګوند او ملک وساتي. نو ډاکټر کبیر ستوري ورته وویل: که چیرې غواړې چې خپل ملک او ځان وساتي نو خپله ملا په پښتنو وتړه ځکه چې دا هیواد تل پښتنو ساتلی دی. ما (هدایت الله بنګش) ورته وویل چې تاسې څنګه پښتون یې چې په خپلو رسمي بیانونو کښې پښتو نه وایې. د خبرو اترو د واضح کولو لپاره د خلق د ګوند د طرفه نور احمد «نور»، ډاکټر ضمیر، صالح محمد «زیری» او نورو خې سره خبرې وشوې.

تپوس: په پښتنو قوم پرستو لیډرانو کښې تاسو سره د افغان کشالې په حقله چا کمک کړی دی؟

ځواب: ټولو قوم پرستو مشرانو، خان عبدالولي خان، ښاغلي اجمل خټک، ښاغلي خان لالا محمد افضل خان، بي بي نسیم ولي او همدا راز نورو قوم پرستو مشرانو د افغان کشاله خپله ګڼله او د خپلې وسې پورې یې د کشالې په حل کښې ونډه اخستلې ده.

تپوس: هغه کوم کړکیچ وو چې د ډاکټر صیب د کوششونو باوجود د پښتنو ملي روغه جوړه ونه شوه؟

ځواب: د خیرو اترو په ترڅ کښې مونږ ته دا معلومه شوه چې د خلق د گوند په دننه کښې درز، تضادونه او بې اعتمادي شته دي او ډاکټر نجیب الله د خپلو گوندي ملگرو سره په یوه خوله نهٔ دي، ډاکټر نجیب الله مونږ ته وویل چې زه ملي روغه جوړه غواړم لاکن زمونږ په خلقي گوند کښې داسې خلق هم شته چې د سولې او ملي روغې جوړې مخه نیسي. د همدې تضادونو له امله ډاکټر نجیب الله غوښتل چې د مرکزي کمیټې د رای (ووټ) څخه ځان خلاص کړي نو لویه جرگه یې راوغوښتله (زمونږ د هغه غوښتنې په اساس چې لر او بر پښتنو کښې باید توپیرونه وي او Election کښې هم برخه واخلي نو د PSDP څلور کسان د برې پښتونخوا (افغانستان) ډاکټر کبیر ستوري، ښاغلی عبدالجلیل خان، نصیرخان، علي خان محسود (د کوزې پښتونخوا) د کوربه په حیث میلمانه کړل) او جمهور رئیس وټاکل شو، ډاکټر نجیب الله غوښتل چې د خلق د گوند سربیره نور غیر خلقیان یا بې طرفه خلق هم په خپله پارلمان کښې داخل کړي، خو لاکن په دې کار کښې د خپل منځي گوندي تضادونو له امله هم بریالی نه شو او د پارلمان کُرسۍ (سیټونه) د خلق د گوند ترمنځ بیا وویشل شو د همدې بې اعتمادۍ او تضادونو له امله نورو گوندونو او ډلو پرې اعتبار نه شو کولی ځکه ډوی به تل د چل ول څخه کار اخیسته.

د ډاکټر نجیب الله په غوښتنه سره مونږ ته د جرمني د راتگ څخه یوه ورځ مخکښې یو پریس کانفرنس جوړ شو. پریس کنفرنس کښې مونږ خپل غوښتنې تکرار کړې چې مونږ ورورولي غواړو، غلامي نه غواړو. روسي پوځونه دې بې قیده او شرطه ووځي چې ډاکټر نجیب الله هم مونږ سره موافقه کړې ده او زمونږ غوښتنې یې منلې دي.

نو دوی د ډاکټر نجیب الله د سیاست د بریالیتوب له امله دغه پریس

کنفرانس هم نشر نه کړه. څه موده وروسته یې د خلق ګوند نوم د وطن په ګوند بدل کړه او د ګوند څانګو ته یې د ګوندونو (پارټیو) نوموونه ورکړل، حال دا چې دغه ټول یو ګوند (خلق ګوند) وو او بیا یې مونږ ته وویل چې مونږه ډیر ګوندیزه پارلماني ډیموکراسي پیل کړه، PSDP دې هم پکښې برخه واخلي. نو دا چې دوی چل ول کوؤ او بې اعتباره وو او ډاکټر نجیب الله بې وسه وو چې خپلې نظریې ته د عمل جامې واغوندي. نو مونږ هم د دوی د چل ول او بې اعتبارۍ له امله د ډاکټر نجیب الله او د هغه د ګوند سره خبرې بس کړې.


پوښتنه: په موجوده حال کښې د افغانستان د کشالې حل څه دی؟

ځواب: د افغانستان کشاله د نړۍ د حالاتو څخه جلا سمه مطالعه کیدی نه شي او ځیرل کیدی هم نه شي.


د نړۍ په موجوده حالاتو کښې دوه شیان د پاملرنې وړ دي. یو دا چې د شوروي اتحاد او کمونیستي بلاکونو ماتیدل او رنګیدل او نړۍ په اقتصادي منطقو (زونونو) ویشل.

او بله د نړۍ تخنیکي وده او ګلوبالیزیشن دی چې په دې نښتون (تړاو) کښې د افغانستان جګړه یوه اقتصادي جګړه ده چې د ترکمنستان څخه د انرژۍ د چینو لاره په افغانستان او پاکستان باندې تیریږي چې د افغانستان لاره پکښې مهم رول لوبوي. د دې لارې جوړیدل د پښتنو افغانانو او افغانستان په ګټه ده.

ټول سوله دوست او امن غوښتونکي هیوادونه دې د دې لارې ملاتړ وکړي چې لاره جوړه شي نو جګړه به ختمه او پای ته ورسیږي.



د سوشل ډیموکراتیک گوند غړی چې د جرمنی څخه کابل ته د ډاکټر نجیب په بلنه تلی وو، په دغه موقعه ډاکټر صیب سره: افضل خان، ډاکټر کبیر ستوری اؤ هدایت الله بنگش ولاړ لیدل کیږی.



# سنګر نۀ ور کوۀ

یو توره بان دیو
د کوه قاف ډښا پیری پۀ نامه
دشپې تیارهٔ کښې راغے
ما د کابل د زړهٔ د رزا اوریده
لکه نیازبین ماشوم
چې پۀ هیبت پۀ خوب
کښې ټوپ ووهی
دفرښتو دغېږ نه وغورځیږی
ماتماشه کوله
ما د کابل د خوب تعبیر وکتو
یو بل منصور پۀ وینو
سُور خاندل
هوۀ هغه منصور زهٔ شومه
پۀ وینو سُور زهٔ شومه
سبا زما دوطن ټولو خلقو
زما پۀ وچو شونډو داولوستل
سر ور کوۀ خو سنګر نۀ ور کوۀ

**نورالبشر نوید**

14 نومبر1999ء